# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com     www.afgazad.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|


دافغانستان دازادی سازمان:
۱۷ جولای ۲۰۱۵

# د کوچنی اختر د را رسیدو په اړه دافغانستان دازادی سازمان مبارکی پیام

داچي هیواد دنړیوالو اومنطقوي تضادونو په منځ کي سوزول کیږي اونړیوال اومنطقوي هیوادونه خپله زورازموینه زموږ په خاوره افغانستان کي کوي اودجهاد ویوکی یي ورته پیداکړی دی چي دپیړیو راهسی پرموږ باندي تپل کیږی اودپردیو هیوادنو ګټي په نظر کي نیسي اوزموږ وطنوالو ته یي سخته ضربه رسیږی اوهمدغه غریب اوبیچاره خلک قرباني او شهیدان کیږی اوزموږ په کورونو کي واویلاوي ،ساندی اوژړاګانی له هرطرفه اوریدل کیږی نو په داسي شرایطو کي څه به موږ اوڅه به عیدونه اواخترونه ولمانځو په داسي شان سره چي دافغانستان دازادی سازمان دټولو دردیدلو وطنوالو سره په غم کي شریک اودعید مبارکی ورته وایی خصوصا داخرنی پیښي چي په خوست ،جلریز اوبدخشان کي وشوي چي داهم دپردیو توطي اودسیسي وي دافغانستان دازادی سازمان دخپلواک افغانستان له پاره نه ستړی کیدونکی هلي ځلي **کوي اوپه ټولو روشنفکرو غږ کوي چي دفرعی اختلافات یو طرف ته پریږدی بلکی دخپلواکي په لاره کي هیواد له دغه تضادونو څخه په ایستلو کي کوښښ وکړي چي نوره جهاد کلیمو په وساطت قرباني نشوو اوپه عامو خلکو غږ کوي چي نوره داسلام په نومونو اوجهاد ویوکو باندی ونه غولیږی چي دطالب ، داعش کړنی یي ښي بیلګی دی اوهمدوی ددین ټیکداران دی بلکي خپل دین دسیاست قربانی نه کړی اوهمدغه امریکا دی چي له بغل نه یي طالب اوداعش راووت اودبرتانیه له ګیډی نه اخوان المسلمین خړیدلی وه** نو موږ باید اوښیارشوو خپلي ملي ګټي دنورو شخصي اومنطقوي اونړیوالو ګټو قربانی نه کړو اودواحد نه بیلدونکي خپلواک اودیموکرات افغانستان له پاره مبارزه وکړو چي له اضدادو څخه دوحدت په طرف حرکت ، اودخوشاله سوکاله دیموکرات افغانستان په هیله اوټولو هیوادوالو ته عید مبارک

دافغانستان دازادی سازمان